پوهنمل حاجی محمد نوزاددی ۲۰۱۲/۰۱/۲۰

# ایا د ځمکی کره د ژوند د پاره ډیزاین شوی نده؟

(دویمه برخه )

*دا برخه دتیری لومړی برخی سره کلک تړاو لری ، نو که چیری کوم محترم لوستونکی هغه برخه لوستی نه وی ، ددی برخی د ښه پوهیدلو په موخه یی زه لوستل اړین بولم او کیدلای شی په افغان- جرمن سایټ کی زما د ارشیف نه تر لاسه او ولوستل شی . مننه*

۵ ـ د ځمکی ساتونکی سپر :
فضا د اوسیدلو د پاره یو د خطره ډک چاپیریال دی داځکه چی هلته وژونکی تشعشات شتون لری او تل خطرناک میتوراېډونه په جرکت کی وی ( Metoreoids یا شهاب ـ دا هغه سماوی اجسام یا ټوټی دی چی یو دبل سره د دوو یا څو سیارو د سره ټکر کیدو او ټوټه کیدو له کبله جدا کیږی او په فضاکی یوی بلی خواته جرکت کوی . که چیری دځمکی د جاذبی ساحی ته داخل نو رالویږی او مرګونی فاجعی را منځته کوی . ژباړ ) . ددی سره سره بیا هم زموږ د استوګنی کور چی د ځمکی کره ده ، پدغه خطرنکه فضا کی پر خپل مدار بیله داره ځرخی . دا کار د یوه عجیب زرهدار پوښ یا سپر د محافظت له برکته تر سره کیږی . دا نه ماتیدونکی سپر دځمکی هغه زوروره مقناطیسی ساحه او یو مرکب مقاوم اتموسفیر دی .

۶ ـ د ځمکی مقناطیسی ساحه :
د ځمکی داخلی برخه د ویلی شوو ( مذابه ) موادو څخه جوړه ده چی دیوی متحرکی کری په ډول دایمی او تلپاتی حرکت لری . له همدی کبله د ځمکی کره د یوه ستر او قوی مقناطیس ځانګرتیا تر لاسه کړی چی د مقناطیسی ساحی اغیز یی په فضا کی تر اوږده واټنه پوری غزیږی . دغه مقناطیسی ساحه د یوه قوی سپر په توګه نه پریږدی چی فضایی تشعشات او نوری په پوتنشیال ډول وژونکی پدیدی چی د لمر نه ریښنی اخلی ، په خپل ټول قوت سره ځمکی ته راورسیږی او ژوندیو موجوداتو ته زیات ورسوی . د دا ډول خطرناکو پدیدو څخه یو شمیر هم لمری بادونه چی تل د برقی چارج شوو پارچو د توپان په ډول جریان لری او همدارنګه د لمر زیان رسونکی وړانګی او نور دی . دا هغه څه دی چی د څو دقیقو په ترڅ کی د میلیارډو هایډروجنی بمونو انرژی ورکوی . دلمر په خارجی سطح کی چاودنی او فضاته د میلیاردونو ټنو موادو غورځول هم ددی ډول خطرناکو پدیدو له ډلی نه دی . دا اوس یو ځرګند حقیقت دی چی د ځمکی مقناطیسی ساحه د یوه ژغوروونکی سپر په ډول کار کوی . هغه رنګینه د نورڅخه منشا اخیستی پدیده چی په شفق کی کله ناکله ترسترګو کیږی او دقطبی روښنایی پنامه یی پیژنی ، د لمر پر سطح د چاودنو څخه دوړانګو له کبله منځته راځی .

۷ - د ځمکی د کری اتموسفیر :
هغه اتموسفیر چی د ځمکی پرخوا و شا را تاو شوی ، یوازی زموږ د تنفس پخاطر ګتور ندی ، بلکه زموږ د دفاع او ساتنی په موخه هم د یوه سپر رول ترسره کوی . د اتموسفیر یو له خارجی قشرونو څخه چی ستراتوسفیر نومیږی ، په خپل ترکیب کی د اکسیجن یو شکل لری چی د ازون پنامه یی یادوی ( ازون یا O3 د اکسیجن یو دری اتمی مالیکول دی. ژباړ ) . د لمر ماورای بنفش وړانګی چی ځمکی ته راځی ، ۹۹٪ یی په ستراتوسفیر کی چی د اتموسفیر خارجی برخه ده ، د ازون دشتون له برکته جذبیږی . پدی توګه د ازون دغه لایه ( قشر ) د ځمکی پرمخ باندی ژوند د زیان رسونکو تشعشاتو د خطر نه ژغوری . دا قشر نه یوازی د انسانانو ، بلکه د ډیرو نباتاتو ژوند هم ژغوری چی د انسانو د ژوند دپاره د اړین اکسیجن ډیره برخه تری نه تر لاسه کیږی . په ستراتوسفیر کی د ازون کچه ثابته نده بلکه د ماورای بنفش شعاعو د کچی دبدلون سره تل بدلون مومی . پدی ډول د ازون قشر هم زموږ د ژوند د ژغورلو د پاره د یوه دینامیک او اغیزمن سپر په توګه کارول کیږی .
دځمکی اتموسفیر همدارنګه زموږ د اسمانی اجسامو د هغه بمباریو څخه ساتی چی هره شیبه یی په میلیونو ټوټی د ځمکی پرخوا را لویږی . ددی ټوټو لویوالی د وړو پارچو څخه نیولی بیا تر سترو بلاکونو پوری رسیږی . ددغو سماوی اجسامو ډیره برخه د ځمکی اتموسفیر ته په راننوتو سره سوزی او له منځه ځی چی موږ یی کله ناکله د شپی دخوا د یوی روښانی لیکی په ډول وینو . دا هم په زړه پوری ده چی د اتموسفیر نوموړی سپر وځمکی ته د هغو شعاعو د رسیدلو مخنیوی نه کوی کومی چی زموږ ژوند اړتیا ورته لری لکه دسرو شعاعو لاندی شعاوی ( radiation


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

Infrared ) او د روښنايي شعاوی . اتموسفير برسيره پر دی د ځمکی پر مخ باندی د تودوخی د ويشلو چاری هم تنظيموی او وروسته د يوه برستن په توګه کار کوی او نه پريږدی چی تودوخه يی ضايع شی ، يانی تودوالی يی ساتی .

دځمکی اتموسفير او مقناطيسی ساحه په ډير مهارت سره ډيزاين شوی پديدی دی او تر اوسه يی لا ټول جزئيات موږ ته معلوم ندی . داخبره پر ځمکی باندی د اړينو موادو د دوران په اړوند هم ويلای شو چی د ژوند د پاره لازم توکی ګټل کيږی .

پرځمکی باندی د ژوند د پاره د اړينو موادو دوران:
که داسی فرض کړو چی پر يوه ښار باندی د تازه هوا او اوبو لاری بندی شی او د کثافت ايستلو کاناليزاسيون يی ټمبه کړل شی ، ددی کار پايله به بيله شکه ناروغتياوی او مړينه وی . راشی پر دی خبری باندی هم غور وکړو :
زموږ د ژوند کره يو داسی رستوران ندی چی تل اومه مواد ورته له بهر نه راوړل کيږی او کثافت يی هره ورځ ليری غورځول کيږی . تازه هوا او تازه اوبه چی زموږ د ژوند اړتيا ده ، ځمکی ته د اتموسفير د باندی خارجی فضا څخه نه راځی او همدارنګه موږ خپل د ځمکی کثافت خارجی فضا ته غورځولای نشو . بيا نو څنګه کيدلای شی چی ځمکه پاکه او د روغتيا له مخی د ژوند وړ وساتو ؟ داکار يواری پخپله د طبعت د دوران په مټ لکه د اوبو ، کاربن ، اکسيجن او نايتروجن د دوران له مخی تر سره کيږی چی هغه دادی :

الف ـ د اوبو دوران :
اوبه د ژوند يو داسی اړين توکی دی چی بيله دی نه ژوند امکان نلری . د اوبو د دوران له برکته ده چی د ځمکی په ټوله کره کی پاکی او تازه اوبه تر لاسه کيږی . دا کار په درو مرحلو کی سرته رسيږی : اول ـ د لمر د انرژی له کبله د ځمکی پرمخ اوبه بخار او هواته پورته کيږی . دويم ـ د اوبو دغه بخارونه په اتموسفير کی سره راټول ، متراکم او وريځ ورڅخه جوړيږی . دريم ـ د اوريځی څخه دغه پاکی تصفيه شوی اوبه د باران ، ږلی او واوری په بڼه بيرته ځمکی ته رالويږی چی دبيا بخارکيدو د پاره چمتو دی او پدی کارسره د اوبو دوران بشپړ کيږی . ايا څومره اوبه پدی ډول دوباره استعماليږی ؟ د يوی څيړنيزی احصايی له مخی دا دومره اوبه دی چی د ځمکی د کری ټوله سطح د نژدی يوه متر په کچه پوښلای شی .

ب ـ د کاربن او اکسيجن دوران:
ددی دپاره چی ژوندی حيوانات مړه نشی ، بايد هوا تنفس کړی . د تنفس پر وخت د ساه ننه ايستلو دلاری اکسيجن ($O_2$) بدن ته داخليږی او د ساه ايستلو د لاری کاربن ډای اکسايډ ($CO_2$) د بدن څخه هواته راوځی . ددی خبری سم سوال پيداکيږی چی په ميلياردونو انسانان او ژوی تل هوا تنفس کوی او اکسيجن تری نه جذبوی ، بيا نو ولی د هوا اکسيجن نه ختميږی او يا ولی ټول اتموسفير په کاربن ډای اکسايډ نه تبديليږی ؟ ځواب په لاندی دوران کی ترلاسه کيدلای شی : اول ـ د يوی عاقلانه پروسی له مخی چی فوتوسنتيز يی بولی ، د ځمکی د مخ نباتات هغه کاربن ډای اکسايډ جذبوی چی د ژوندی ژوو د ساه کښلو د لاری هواته خارج شويدی . نوموړی نباتات دا کاربن دای اکسايډ د لمر د انرژی په مټ په کاربوهايډرايټ او اکسيجن تبديلوی . دويم ـ کله چی موږ دغه بيا توليد شوی اکسيجن تنفس کړو ، نو ټاکلی دوران بشپړتيا مومی . ددغی پروسی له مخی نباتات وده کوی او اکسيجن توليديږی . دا کار په چوپه خوله بيله دی چی چاپيريال ککړ شی ، تر سره کيږی .

ج ـ د نايتروجن دوران :
د ځمکی پرمخ ژوند همدارنګه د داسی عضوی ماليکيولونو سره تړلی دی لکه پروټين چی دا ډول مواد بيا د نايتروجن په کارولوسره تشکيليږی . پدی موخه هم په څو مرحلو کی يو دوران ترسره کيږی : اول ـ د نيکه مرغه دنايتروجن ۷۸٪ کی د اتموسفير څخه لاسته راځی . بريښنا ( رعد وبرق ) د اتموسفير نايتروجن په هغو مرکباتو اړوی چی د نباتاتو دپاره د جذب وړ دی . دويم ـ نباتات دغه نايتروجنی مرکبات جذبوی او د عضوی ماليکيلونو په جوړولو کی يی کاروی . ژوی چی بيا کله نوموړی نباتات وخوری نو ددی لاری نايتروجن اخلی . دريم ـ په پای کی کله چی حيوانات او نباتات مری او خوسا کيږی ، ميکرو ارګانيزمونه ( لکه باکترياوی . ژباړ ) ددوی دپاته شونو څخه نايتروجنی مرکبات تجزيه کوی . پدی توګه ازاد شوی نايتروجن بيرته اتموسفير او ځمکی ته ځی او په همدی باندی د نايتروجن دوران هم بشپړ کيږی .

د ژباړی پای


maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د ژباړن څو بشپړونکې خبرې:

د لوړې ليکنې څخه د نشر کونکو موخه دا وه څو دعلمي څېړنو پر بنسټ وښئې چې دا ځمکه ، اسمانونه او مافيها د خوشې تصادف له مخې منځته ندي راغلي بلکه پدې کار کې د هستۍ زيږونکې او قادرمطلق پروردگار سنجول شوې اراده دخيله ده . رښتياهم د ژوند دپاره د دومره پيچلي سيټم د لاری اړين شرايط برابرېدل او همدارنګه د انسان او نورو ژوو د بدن اناټومي او د غړو دومره پيچلي فيزيولوژيکی ځانګړتياوی يوازی د يوه تصادف کار بلل به يوه اسانه او د منلو وړ خبره نه وی . لدې نه پرته د جيولوجی ( ځمکه پېژندنې ) د علم له مخې دا څو خبرې هم د يادوولو وړ بولم :

لوستونکو ته به داخبره هم په زړه پوری څو خبر شي چې زموږ د ځمکې کره د جيولوجيکې څېړنو پر بنسټ څلورمیلیارډه او شپږ سوه ميليونه ( ۴،۶ ميليارډه ) کاله پخوا د لمر او نورو اړوندو سيارو سره يوځای په بې پايه کائيناتو کې د ګردوغبار د يوی متحرکی او متراکمې کتلی څخه رابيله شوی اوبيا پخپلو کې د دورانی حرکت په مټ متراکمه او کلکه شوی ده . محاسبې ښئې چې د ځمکې د کرې تر ټولو زړه ډبره ( تيږه ) څلور ميليارډه کاله عمر لری . په ځمکه کې د بيګانه تيږو ( هغه ډبری چې په نورو سيارو کې جوړی شوی او بيا يې ځينی ټوټی د رالويدلو پروخت ځمکې ته رارسيدلی دی ) عمر تر ۴،۶ ميلياړده کالو پوری رسيږی . دغه ۴،۶ ميليارډ کاله چې دعلمي دقيقو متودونو په مټ محاسبه شوی ، زموږ د ټول لمريز سيټم د پاره نژدې يو شي دی .

د ځمکې د پيداينبت د لوړی فرضيې له مخې ټول لمريز نظامونه او ستوری په همدی ډول منځته راغلی دی . د هغو تيږو څېړنه چې له سپوږمۍ څخه لابراتوارونو ته راوړل شويدی ، ښئې چې ترکيب يې زموږ د ځمکې د تيږو سره ورته والی لری . دا ورته والی ددی ښکارندوی دی چې سپوږمۍ د ځمکې څخه يوه جدا شوی ټوټه ده ، پرشاوخوا يې څرخيدو ته دوام ورکوی ، يو ځای ورسره د لمر پرشاوخوا راګرځي او د ژوند دپاره د مناسبو شرايطو په تامينولو کې مرسته کوی .

د پاک خدای پدی بې پايه جهان کې په ميلياردونو کائينات ، کهکشانونه او لمريز نظامونه شته . دا به ډيره د حيرانتيا وړ خبره وی چې پدی ټولو کې زموږ ځمکې ته ورته د ژوند د مناسبو شرايطو درلودونکی کومه بله کره وجود ونلری . که څه هم تر اوسه پوری داسی يوه پيښه ليدل شوی نده مګر څيړونکي دداسې يوی کری موجوديت نه ردوی چې هلته به مايع اوبه او د ژوند نور اړين توکي موجود وی ، په يوه يا بل ډول به ژوند وجود ولری او د خدای مخلوقات به په هره بڼه چې وی ، هلته به ژوند کوی اود بدن دغړو فيزيولوژيکی ځانګړتياوی به يې زموږ پشان دجسم د اناټومي ځانګړتياوو سره سمې ټاکل شوی وی .

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ